# د هغه چا مثال چې خپل رب يادوي او د هغه چا مثال چې خپل رب نه يادوي د ژوندي او د مړي دی

له ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «د هغه چا مثال چې خپل رب يادوي او د هغه چا مثال چې خپل رب نه يادوي د ژوندي او د مړي دی»، او د مسلم الفاظ داسې دي: «د هغه کور مثال چې الله پکې يادېږي او د هغه کور مثال چې الله پکې نه يادېږي د ژوندي او د مړي دی».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله د يادوونکي او د هغه د نه يادونکي تر منځ توپير داسې بيان کړی لکه د ژوندي او مړي تر منځ د ګټې رسولو او ښايسته مظهر په لحاظ توپير، نو د هغه چا مثال چې خپل رب يادوي د هغه ژوندي انسان په څېر دی چې ښکاره يې د ژوند په رڼا او باطن يې د علم په رڼا ښکلی او ګټور وي، او د هغه چا مثال چې الله نه يادوي، د هغه مړي په څېر دی چې ظاهر يې بې ګټې او باطن يې باطل وي او هېڅ ګټه پکې نه وي. همدا ډول هغه کور چې اوسېدونکي يې الله يادوي ژوندی بلل کېږي، که نه نو هغه مړ کور دی ځکه چې اوسېدونکي يې د الله له يادولو نه سست دي؛ که څه هم په حديث کې د کور يادونه په مړي او ژوندي کور سره شوي ده خو موخه ترې د کور اوسېدونکی دی.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4177